افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د ننګرهار د پوهنې رياست

د کرېزيو د پوهنې آمريت

# MS WindoW Note




Ketabton.com

شاګرد نوم(                    )

ترتيب کوونکی:نورولي قربان

اړيکه:0778268663—0700858266

Noorwali.qourban@Gmail.com:Gmail

Noorwali Qourban:Facebook

Qurban photo copy

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سریزه

د لوی او بښوونکي څښتن په سپیڅلي نامه: لکه څرنګه چې موجوده پیړۍ د تکنالوژۍ پر مټ بسیا ده، د تکنالوژۍ زده کړه د موجوده بشر لازمه او اساسي اړتیا ده . یو د تکنالوژۍ له وسایلو څخه کمپیوټر ده چې په ټولو خــــصوصي مکاتبو کې د یوه مضمون په صفت تدریسیږي او کمپیوټر د زده کړې لپاره مسلسلې مطالعې ته اړتیا ده که په کمپیوټر باندې پرله پسې عملي کار ونه شي ډیر زر له خافظې څخه خارجیږي (هیریږي). نو داچې اکثره شاګردان په کورونو کې خپل کمپیوټر نه لري او په امتحان کې کومه داسې لاره نه لري ترڅو دوی امتخان ته ځان اماده کړي نو د دې لپاره هر استاد ډول ډول میتودونه کاروي ترڅو شاګردانو ته دخل یوه سالمه لاره پیدا کړي. نوما هم د یوه استاد په صفت دا ستونزه درک کړي او خپلو شاګردانو ته مې د (MS Window ) پروګرام یو وړوکی شان چیپټر د دریم څخه ترپنځم ټولګي پوري شاګردانو ته تیار کړی ده تر څو راتلونکي امتخان ته د دې چپټر له لارې مطالعه وکړي.په دې چپټر کې ما ترخپلې وسې پوري کوشش کړیده چې هر یو کمانډ په ډېر ساده لهجه تشریخ کړم د لا اسانتیا په خاطر مې د چپټر په هر مخ کې د کمانډ عکس او لاندې مې ورته یو وړوکی تعریف لیکلی ده او بل مخ په تشه صفخه کې باید شاګردان له ځانه ډېره تشریخات ولیکي.


د لوړو ټولګیو شاګردانو ته مې بیا د ms Word,MS excel) Window ) learningاجوړ کړیده تر څو په کور کې ترې استفاده وکړي.

دا چې انسان نیمګړی ده زما په لیکنه کې به ختما نیمګړتیاوې موجودې وي ستاسو نیوکو او انتقادونو ته سترګې په لار یم .

په پښتانه مینه نورولي قربان

0700858266


(c) ketabton.com: The Digital Library




Icons:د هر پروګرام شکل ته ایکنه وايي.

Gadgets:د کمپیوټر تنظیموونکي برخې لکه ساعت،جنتري او داسې نورو برخو ته وايي.

Start menu:د سټارټ بټن وهلو وروسته چې کله سټارټ مینو خلاصه شي نو د هغې له لارې موږ کولای شو چې هر ډول پروګرام(Software)خلاص کړو. Desktop:
د کمپیوټر هغه برخه ده چې هلته ټولې ایکنې پرتې وي او یا چې په background کوم تصویر ښکاري همدا د ډسکټاپ ساحه ده.




Pop up menu د ښي کلیک کولو وروسته په ډسکټاپ باندې یو لیست ښکاره کیږي چې د هغې په وسیله د ډسکټاپ ایکنو یا شکلونو ترتیبات کیږي.

Personalizeپه مدد کولی شو چې د ډسکټاپ Desktop ته تصویرونه او رنګونه بدل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کمپیوټر پیژندنه او تاریخچه

کمپیوټر دلاتیني ژبې د compute له کلمې څخه اخیستل شویده چې مانا يې مخاسبه (شمیرنه ده )کله چې (R)ورجمع شي نوبیا محاسبه کوونکي (شمیرونکي )په مانا ده

یا کمپیوټر یو ډیجیټل برقي ماشین ده چې سخت او مشکل کارونه په لنډ وخت کې ترسره کوي

یا: کمپیوټر هغه بریښنایيز ماشین دی چې پروګرام منونکی وی او منطقي اوریاضیکي اجرات تر سره کوي.

دلومړی ځل لپاره کمپیوټرپه (1942م) کال کې دیو امریکایي عالم الاتاسوټ بري لخواه د امریکا په هاردوارډ پوهنتون کې احتراع اوجوړ شوو.

په (1960م)کال کې یو لوی کمپیوټر جوړ شو چې دیوې کوټې په اندازه وو او په یو وخت کې ورته ډېر کار کوونکي ورته په کار وو.

اولین کوچنی کمپیوټر (personal computer)چې (PC)په نامه یادیږي په 1979م کال کې جوړ شو.

او وروروسته کمپیوټر ته د کمپیوټر نوم د چـــــین هیواد له خواه ورکړل شو

کمپیوټر دوې ۲ برخو ویشل شوی ده چې یوې برخې ته يېSoftwareوایي. سافټویر د کمپیوټر هغه برخه ده چې په سترګو لیدل کیږي خو لمس کیږي نه یا ټول هغه پروګرامونه چې په کمپیوټر کې د ننه ترسره کیږي سافټویر په نامه یادیږي لکه: Microsoft office,zapya,vlc,etc

،چې بلې برخې ته یې Hardware(سخته الې چې ورته په پښتو ژبه کې ورته وايي)چې عبارت دي له Mouse,keyboard,CPU,monitore,printer,loud speaker

کمپیوټر له څلورو اصلی واحدونو(برخو) څخه جوړشوی دی ۱:موسMouse ۲:کیبورډ Keyboard: ۳:مانیټور Monitor ۴:CPU

Mouse:1:-یاموږک هغه اله ده چې د کمپیوټر د چالانیدو څخه وروسته د کار د شروع ځای د همدې الې په وسیله تاکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Keyboard 2:یا لیک دړه :دا د کمپیوټر هغه برخه ده چې په دې د هرې ژبې الفباموجوده ده او د همدې لیکدړې په واسطه هر ډول عملیې ترسره کیږي کیبورډ بټنې په درو برخو ویشل شوی دي .


الف: د عددونو او الفبا بټنې .


ب: د لیک نښو او علامو بټنې.

ج: خاص بټنې چې په دې بټنو کې وظیفوي ،قلفوونکي او نوري بټنې شاملې دي.

Monitor3:منیټور: د تلویزون په څیر یوه پرده ده او هغه عملیې چې په کمپیوټر کې د ننه ترسره کیږي د منیټور د شیشه یا پرده باندې لیدل کیږي.

کله که بل سکرین یا پروجکټور د کمپیوټر سر وصل کوو نو د کیبورډ څخه (Start+p بټن وهو بیا به موږ ته یوه مینو ښکاره شي په هغه کې (duplicate)باندې کلیک کوو نو کمپیوټر به دسکرین سره وصل شي.






لومړی کمپیوټر



Mouse موږک



Keyboard لیک دړه



Printer پرینټر



loud لوډسپیکر speaker



Monitor لیدونی




USB فلش




سکینر



(CPU) central processing unit

(c) ketabton.com: The Digital Library


Word pad: پروګرام د وینډو له اساسي پروګرامونو څخه ده چې د لیکني لپاره استعمالیږي

د Word padوورډ پډ پروګرام د خلاصولو طریقه لومړی په سټارټ بټن باندې کلیک کوو او په search boxکې ورته (Word pad) لیکو او وروسته انټر بټن وهو

Cut په وسیله یوه لیکنه له یو ځای څخه وړو په لومړي ځای کي به نه پاتي کیږي او بل ځای ته به مکمله ځي.(ctr+x)

: Copy: په وسیله یوه لیکنه له یو ځای څخه وړو په لومړي ځای کي به هم پاتي کیږي او بل ځای ته هم ځي.(Ctrl+C)

5 : Paste:په وسیله هغه لیکنه چې موږ د CUT,Copyله لارې راخیستي وي هغه پرې اچولی شو (Ctrl+V)

(B): Boldپه وسیله کولای شو چې لیکنه لږه غاټه کړو.(Ctrl+B)

Italic:(*I*)په مرسته کولای شو چې لیکل لږ څه کاږه یا مات کړو.(Ctrl+I)

<u>Under line:</u>په وسیله کولای شو چې د لیکنې لاندې یو لیکه واچوو.(Ctrl+U)

Picture:په وسیله کولای شو چې یو تصویر راواخلو.

Paint drawing:په وسیله کولای شو چې د فیتټ پروګرام څخه وورډ پډ پروګرام ته رسمونه راولو.

Date and time:په وسیله کولای شو چې تاریخ او وخت ولیکو.


Insert object:په مدد کولای شو چې دبل پروګرام څخه وورډپډ پروګرام ته د هغې پروګرام څخه یو څه راوا‌ړوو.

Findپه وسیله کولای شو چې په خپله لیکنه کې نومونه او لغاتونه پیدا او ولټوو.(Ctrl+F)

Replace:په مرسته کولای شو چې په خپله لیکنه کې نومونه ،لغانونه په نورو نومونو بدل کړو.

Select all:په مرسته کولای شو چې ټوله لیکنه انتخاب کړو.(Ctrl+A)

(c) ketabton.com: The Digital Library


Paint: پروګرام د ویندو له اساسي پروګرامونو څخه ده چې د رسمونو،رنګمالی او ډیزاین لپاره استعمالیږي

د Paint پینټ پروګرام د خلاصولو طریقه لومړی په سټارټ بټن باندې کلیک کوو او په search box

کې ورته (paint) لیکو او وروسته انټر بټن وهو.

select په مدد کولای شو چې یوه مخصوصه ساحه انتخاب کړو

Crop په مدد کولای شو چې کوم ځای موږ په کار وي هغه دځان لپاره پرې کړو یایی crop کړو.

Resize په واسیطه کولای شو چې دیوه عکس یا د شکل اندازه کمه یا زیاته کړو.

Rotate په مدد کولای شو چې موږیوعکس یاهم یوتصویرد درجو په اندازه یوبل حواته کوږ کړو.

Pencil په مدد کولای شو چې موږ دخپلي خوښي لیکنه یا هم امضا وکړو خو هغه دپینسل په واسیطه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Eraser په واسیطه کولاسی شو چې که په یو شکل یا په یو عکس کې مو غلطي کړي وي هغه صفا کړو او له سره یی سم کړو

Fill with color په مدد کولای شو چې موږ یو عکس یا شکل ته رنګ ورکړو یعنې له رنګه یی ډک کړو

Color picker که چېرې دیوه تصویر یا کوم بل څه رنګ موږ خوښ شي نو ددې کمانډ په و اسیطه سره یی کولای شو چې په خپل عکس باندې یی افلای کړو

Text په مدد کولای شو چې په دننه شیف یا عکس کې دخپل ځان لپاره دلیکنې لپاره یو textخلاص کړو یعنې په شکل کې لیکنه کولای شو

Magnifier په مدد کولای شو چې یوه مخصوصه ساخه دځان لپاره رانږدې کړو

Brush په مددکولای شو چې په مختلفوبروشونوسره لیکنه وکړو.

Outline shapeپه واسیطه کولای شو چې دعکس یا کوم بل شیف دځنډوساخه منظمه کړو یا یی ترتیب کړو

Fill په مدد کولای شو چې مختلفو شیفونویا عکسونو ته رنګ ورکړو.

Size په مدد کولای شو چې د برش لپاره دپراخوالي اندازه وټاکو،

Edit color په مدد کولای شو چې رنګونوکې تغیرات راولو.

Zoom in په مدد کولای شو چې لیکنه نږدې یا عاټه کړو


Zoom out په مدد کولای شو چې لیکنه لیرې (وریا) کړو

Ruler خط کش راته وښایه یا یی بند کړو

Save:یو فایل په یوه ځای کې ثبتولی شو

Save as:باندې یو فایل په مختلفو ځایونو کې په مختلفو نومونو باندې ثبتولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Large Icons

دلا رج ایکنز په واسطه موږدډیسک ټاپ پر مح تولې ایکنې عتولی شو.

Medium Icons

په واسطه موږ دډیسک ټا پ پرمخ ایکنز منځ میل کو لی شو یعني نه به ډېر عاټ وي او نه به ډ یر کو چني وي

Small icons

د دې په مرسته کولای شو چې په ډیسکټاپ باندې شکلونه کوچني کړو.

Auto arrange icons

په دې که علامه واچوو نو بیا موږ نه شو کولای چې ایکنې له یو ځای ځخه بل ځای ته یوسو او که چیرته ایکنې په ډیسکټاپ باندې کډوډې (عیري منظمې )وي نو په دې کې چې علامه واچوو تولې به په خپله منظمې شي.

Align icons to Grid

په دې که علامه واچوو نو بیا ایکنې به له یو ځای ځخه بل ځای ته ځي خو له لین ځخه به نه ووځي.

Show Desktop icons

که چیرې په دې کې علامه لګیدلې وي نو په د سکټاپ به ایکنې ښکاري او که علامه نه وي نو ایکنې به ورکې (پټې )وي.

Sort by

د دې په واسطه کولای شو چې ایکنې د الفبا په ترتیب منظمې کړو.


Refresh

په دې باندې کمپیوټر تازه کیږي که کله کمپیوټر کمزوری کیدو نو دا کماند یو څو ځله وهو شارټ کټ يې F5 بټن ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## CUT

که موږ یو فایل.ویډیو،تصویریا هر څه چې لیږو نو که کټ باندې یې وږو نو په لومړي ځای کي به نه پاتي کیږي او بل ځای ته به په مکمل ډول ځي که غواړو چې په دواړو ځایونو کي د پاتي شي نو بیا COPYباندې کلیک کوو .




## PASTE

د کټ کاپي نتیجي ته فیسټ وایي یاني که موږ کاپي یا کټ راخیستي وي نو کوم ځای ته یې چې وړو نو Pasteباندې کلیک کوو

## Screen Resolution


په دې باندې د کمپوټر مانیټور (سکرین)ترتیبولی شو اندازه یې پرې عاتوو با یې پرې کوچنی کوو لیکل اندازه پرې منظمه کولای شو.

## Personalize

## Windows

ویندو ته څکه ویندو ویل کیږي چې په هغه کي هرڅه دیوه کړکي په شکل خلاصیږي

:د کمپیوټر هغه برخه چي هلته ایکنز،کیډګیټس Icons, gadgetsپراته او یا چې په سکرین باندې عکس Disk Topثبت وي.



## Mouse pointerیاCoarser

د موس شکل یا هغه نښه چي کار پرې کوو د کرسر په نوم یادیږي.




**Scheme**: یه مرسته کولای شو چې د کرسر شکل بدل کړو

## Snap to

کله چي په دې کي علامه واچوو نو که کوم شی deleteکوو یا یې saveکوو نو د yes NO بکسي ته به کرسر په خپله توپ اچوي

## Hide pointer while Typing

که چیرې په دې افشن کي علامه واچوو نو کله چې په کمپیوټر ټاییینګ کوو نو کارسر به په خپله ورکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Display pointer Trails**:په دې کې علامه یا چیک مارک ولګوو نو د موس کرسر پسې به د ستایل لپاره اوږده لکی جوړیږي.

**Show location of pointer when I press C T R key**

که چیرې په دې افشن کې علامه واچوو نو چې کله کرسر رانه ورک شي نوچې کنټرول بټن ووهو کرسر به خپله راته اشاره کوي (ځان به درته ښایي)


کله که وغواړو چې کمپیوټر د سکرین یا پروجکټور سره وصل کړو نو د کیبورډ څخه ستارټ بټن نیسو او pوهو موږ ته به یو مینو ښکاره شي چې د هغې په مرسته یې په لاندې ډول ورسره نښلوو.

۱:**Disconnect projector**:که په دې کلیک وکړو نو پروجکټور به بند وي کمپیوټر په مانیټور کې به کار کوو.


۲:**Duplicat**:کمپیوټر او سکرین دواړه به کار کوي (دواړه به فعال وي)

۳:**extand**:پروجکټور یا سکرین او د کمپیوټر مانیټور به فعال وي خو د کمپیوټر په مانیټور به ټوله عملیې اجراء کیږي او په سکرین یا پروجکټور به یوازې د disk tap چې کوم تصویر ثبت وي هغه به ښایي.

۳:**projector only**:د کمپیوټر مانیټور یا سکرین به بند وي ټوله عملیې به د سکرین پروجکټور په پرده ښکاري.




کې موږ ته هغه پیغامونه مخکې له مخکې راځي چې کمپیوټر ته زیان رسوونکي وي او دو مشکلاتو په اړه خبرداری راکوي او دا مشکلات بیا د Trouble shouting په مرسته حل کولای شو




**Open each folder in the same window**:که چیرې په دا افشن کې علامه ولګوو نو هر فولډر فایل به په یوه ویندو(کړکی)کې خلاصیږي.

**Open each folder in the same window**: که چیرې په دا افشن کې علامه ولګوو نو هر فولډر فایل به په ځانته ځانته ځانګړي ویندو(کړکی)کې خلاصیږي.

**Single click to open on item**: که پدې افشن کې چیک مارک ولګوو نو هر څه به په یوه کلیک سره خلاصیږي.

**Double click to open item (single click to select**: که پدې افشن کې چیک مارک ولګوو نو هر څه به په دوو کلیکونو سره خلاصیږي او په یوه کلیک سره به صرف انتخابیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Show Handler in preview pan:** كه پدې افشن كې چيک مارک ولګوو نو هر فايل باندې چې





موږ كليک كوو نو نو هغه به راته په ځنګ كې راته ښايي.

د دې كمانډ په مرسته كولاى شو چې د كمپيوټر ډراوونو ته پاسورډ يا كوډ ولګوو.

Recover keyهغه كيلي ده چې كه هغه پاسورډ درنه هير شوى وي چې ډراوونو ته مو وركړى وو نو دا كيلي به په يو ډراوو كې درسره وي او د دې په مرسته يې خلاصولى شى.

1كه وغواړو چې ټاسک بار خلاص كړو نو ښى طرف ( Right ) كليک كوو او وروسته personalize ته ځو ټاسک بار به چپ طرف لاندې خوا كونج كې موجود وي disk top لاندې خواكې كې هم موجود وي.




د Task Bar په اړه لنډ معلومات .

Task Bar appearance

- Luck the task bar په واسطه ټاسک بار كولب كولاى شو.
- Auto-hid- the task bar كه په دې كې علامه وي نو ټاسک بار د ورک وي او كه كرسر ورنيږدې پخپله به راښكاره كيږي
- Use small icons په ټاسک بار كې دې ايكنز كوچني وي.

2 Task Bar location on screen : په دې سره د ټاسک بار موقعيت ټاكلى شو( لاندې پورته چپ طرف ښي طرف ) بيولى شو.

3 Restor de fault icon behaviour : كه په دې باندې كـلـيـک وكړو ټول تاثـيـرات دې عادي حالت ته راشى.





**Power of actions**

⇐ Swicth user: په دې سره بل user ته انـتـقـال كولاى شو.
⇐ Log off: كه دې سره كلـيـک وكړو نو معلـومات هم ختـمـولاى شي ورسره. او كمپيو تر به بند وي
⇐ Lock: په دې سره كه په كمپـــــــيـوټر كې پاسورډ لګيدلى وي نو كـولــب به شي.
⇐ Restart: په دې باندې خپل كمـپـيـوټر يو ځل بند شي او بيرته به په خپله چلاند شي شو.
⇐ Sleep: په دې باندې ئې خپل كـمـپـيـوتـر خوبياولى كولاى شو.
⇐ Hibernate: كه په دې باندې كليک وكړو عـمـلـيې دې جريان ولري خو كـمـپـيـوتـر به بند وي او كوم پروګرامونه چې خلاص وي هغه به په هماغه ځاى باندې ولاړ وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library






| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ⇐Q ض ⇐ | W ص | E ث | R ق | T ف | Y غ | U ع | I ه | O خ ځ | P ح څ | [ ج | ] چ |
| A ش ښ | S س ى | D ى ي | F ب پ | G ل أ | H آ ا | J ت ټ | K ن ڼ | L م ة | ; ک : | ' ګ ؛ | Enter |
| Shift | Z ئ ظ | X ط ې | C ز ژ | V ر ء | B ذ | N د ډ | M ړ ؤ | , و ، | . ږ ، | / ږ . | SHIFT |
| CTRl | FN | ST | ALT | نـــــورولي قربان | | | | | ALT | CTRL | |

کله چې د کیبورډ په یوه بټنه کې دوه توري راغلي وي نو که غواړو چې دویم توری ولیکو نو شیفټ نیسو هماغه بټن وهو نو دویم بټن وهل کیږي.

او که په انګلیسي کې یو توری په غاټو لیکو  نو Shift نیسو او کوم بټن چې ووهو نو هغه عدد په په غاټو لیکي.




که چیرې د کیبورډ ژبه انګلیسي څخه پښتو ته او یا بلې ژبې ته بدلوو نو  ALTنیسو او ورروسته  Shiftبټن وهو نو ژبه به په اتومات ډول بدله شي.






او که چیرته د انګلیسي توري له غاټو څخه ورو او له ورو څخه غاټو ته اړوو نو د کیبورډ څخه Caps lock بټن وهو.

او وغواړو چې د کمپیوټر رڼا تیزه یا کمه کړو نو د Fnبټن  نیسو او ایرو بټن پاس او لاندې بټن وهو





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**